The Bank بانک
میاشتنۍ | Monthly | ماهنامه
۱۹۷ گڼه - ۱۴۴۵ جمادي الاول - ۱۴۰۲ لیندۍ




# د افغانستان بانک د شپږ میاشتنیو کړنو او لاسته راوړنو راپور

صفحه ۱۳

The Impact of Loan Portfolio Management on Credit Risk: Evidence from Banking Sector of Afghanistan

گنجینه های پنهان؛ امیدی برای اقتصاد شکوفای افغانستان

## بانکداری اسلامی دسترسی مردم
## بــه خدمات مالی را افزایش داده،
## سکتور بانکی را مستحکم می سازد
## ودر کاهش فقر نقش مهم دارد.





# بانک

## لړلـــــــیک / فهرست

| لړلـــــــیک / فهرست | مخ |
|---|---|
| د افغانستان بانک لوړ رتبه پلاوي د ایوفي او د اسلامي پراختیایي بانک په ... | ۱ |
| د پیسو وینځلو او نورو جرمونو سره د مبارزې د همغږۍ عالي کمیسیون اوومه غونډه | ۲ |
| ورکشاپ یک روزه آموزشی پیرامون اهداف، وظایف و سیاست های کُلی... | ۳ |
| په هېواد کې د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا او دودولو په موخه غونډه جوړه شوه | ۴ |
| د افغانستان بانک د مرکز او جنوب ختیځ زون څخه راټول شوي بانکنوټونه وسوځول | ۵ |
| مالي او بانکي کړکیچونه څنګه مدیریت کولای شو؟ | ۶ |
| گنجینه های پنهان: امیدی برای اقتصاد شکوفای افغانستان | ۹ |
| اقتصادي خبرونه | ۱۱ |
| د افغانستان بانک د شپږ میاشتنیو کړنو او لاسته راوړنو راپور | ۱۳ |
| په اسلامي بانکوالۍ کې د پورونو د خطراتو مدیریت | ۱۸ |
| فرصت ها و چالش های عضویت افغانستان در سازمان تجارت جهانی | ۲۱ |
| The Impact of Loan Portfolio Management on Credit Risk:... | ۳۱ |


د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، احمد جواد سداد او مفتي عبدالله آخندزاده

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسوول مدیر: انور الله حیات

خبریال: سید خالد خالقیار

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسوول: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

کال: اوولسم



پته: د افغانستان بانک

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af



د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.


Da Afghanistan Bank-Youtube twitter.com/AFGCentralbank www.facebook.com/AFGCentralbank

# د ایوفي او د اسلامي پراختیایي بانک په اتلسم کلني کنفرانس کې د افغانستان بانک د لوړ رتبه پلاوي ګډون

د افغانستان بانک د سرپرست رئیس ښاغلي هدایت الله بدري په مشرۍ پلاوي " د راتلونکي اقتصادي رکود د مخنیوي او نړۍ لپاره له تیلو پرته د اقتصادي تنوعاتو او اسلامي بانکوالۍ په رڼا کې تګلارې" تر عنوان لاندې دوه ورځني کنفرانس کې چې د روان میلادي کال د نومبر په ۲۹ او ۳۰ مه نېټه په بحرین هېواد کې جوړ شوی وو، ګډون وکړ.

په دې کنفرانس کې د افغانستان بانک سرپرست رئیس وویل: "د افغانستان بانک ټینګه اراده لري چې د افغانستان بانکي او مالي سکتور په بشپړه توګه اسلامي کړي او له ربا او نور حرامو کړنو یې پاک کړي، نوموړي زیاته کړه دا مهال ټول سودي معاملات منع کړل شوي دي چې متعارف او سودي بانکونه د یو پلان پر اساس اسلامي بانکوالۍ ته اړول کېږي."

ښاغلي بدري وویل: "په دې اړوند د نورو اسلامي هیوادنو له تجربو او نړیوالو اسلامي مؤسساتو له تخصص او پوهې څخه په ګټې اخیستنې سره غواړو چې د افغانستان بانکي او مالي نظام داسې جوړ شي چې له ربا او نورو سودي معاملو څخه پاک وي."

نوموړي زیاته کړه د اسلامي بانکوالۍ مالي محصولات باید نه یوازې په شکل بلکې، په اصل او جوهر کې هم د شرعي اصولو سره مطابقت ولري. ښاغلي بدري ټینګار وکړ چې بانکي تمویلات باید په هغو برخو کې وشي چې خلکو ته یې ګټه رسیږي او له موړ سره د شریعت د مقاصدو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي. د نوموړي په خبره هغه پروژې چې دندې رامنځته کوي، د فقر او بېوزلۍ کچه کموي، ټولنیز - اقتصادي عدالت تأمینوي او د چاپېریال د ښه والي لپاره مؤثرې وي باید پاملرنه ورته وشي او تمویلات ترلاسه کړي.

د یاد کنفرانس په اوږدو کې ښاغلي بدري د یو شمیر نړیوالو مالي ادارو او د اسلامي هیوادونو د مرکزي بانکونو له رئیسانو او د ډیپلوماټانو سره هم لیدنې درلودې.

نوموړي د اسلامي مالي مؤسسو د محاسبې او تفتیش اداري د رئیس ښاغلي شیخ ابراهیم خلیفه الخلیفه سره د اسلامي بانکوالۍ اړوند او همدا راز د متقابلو اړیکو د لا زیات ټینګښت په اړه ځانګړې لیدنه درلوده او تر څنګ یې د بحرین هیواد لپاره د ترکیې هیواد له سفیرې سره هم ولیدل، په دې لیدنه کې د بانکي موضوعاتو ترڅنګ پر یو شمیر اقتصادي موضوعاتو هم بحثونه ترسره شول.

همدارنګه د اسلامي بانکونو د اجرائیه مشرانو، علماؤ او د اسلامي بانکونو د شرعي پلاوو له غړو سره هم بېلابېلې لیدنې کتنې ترسره شوې او هغوی ته په افغانستان کې د شریعت له اصولو سره سم د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق او د افغانستان بانک د پولي سیاست په اړه معلومات ورکړل شول.

# د پیسو وینځلو او نورو جرمونو سره د مبارزې د همغږۍ عالي کمیسیون داوومې غونډې جوړېدل

۱۴۴۵ جمادي الاول ۷ مه – د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي نوراحمد آغا په مشرۍ د همغږۍ عالي کمیسیون اوومه غونډه جوړه شوه. په یاده غونډه کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي نوراحمد آغا یادونه وکړه چې د افغانستان اسلامي امارت تر بیا ځلي فتحې وروسته دا دویمه غونډه ده چې د همغږۍ عالي کمیسیون د غړو او استازو په ګډون جوړیږي.

د نوموړي په خبره د دې کمیسیون اصلي موخه د ا.ا.ا اداراتو ترمنځ د لازمې همغږۍ رامنځته کول دي. ښاغلي نور احمد آغا زیاته کړه د اړوندو ادارو تر منځ همغږي او همکاري به د دې لامل شي چې د پیسو وینځلو، نورو اقتصادی جرمونو او نشه يي توکو څخه ترلاسه شوو عوایدو سره مؤثره مبارزه وشي.

ښاغلی نوراحمد آغا وویل د دې غونډې بل هدف دا دی، څو نړیوالو ته وښیي چې د افغانستان اسلامي امارت له ټولو نړیوالو هېوادونو، مالي او بانکي بنسټونو سره د غوره اړیکو ساتنې ته ژمن دی او د دې تر څنګ له شرعي پلوه د غیر مشروع کړنو له لارې د لاسته راغلو عوایدو سره مبارزه خپله دیني او اسلامي وجیبه ګڼي.

نوموړي زیاته کړه د افغانستان اسلامي امارت له دریځ سره سم مونږ له ټولې نړۍ سره د ښو اړیکو غوښتونکي یو او د افغانستان بانک ژمن دی چې په خپله برخه کې ټول هغه قوانین اومقررات چې له اسلام سره په ټکرکې نه وي عملي کړي، څو نړیوال هم په دې برخه کې د قانون له پلي کېدو څخه ډاډمن شي.

تر هغې وروسته د افغانستان بانک د مالي راپورونو او معاملو دشننې مرکز لوی آمر ښاغلي جمال ناصر رؤفي چې د یاد کمیسیون د دارالانشاء رئیس هم دی د افغانستان د پیسو وینځلو او نورو جرمونو سره د مبارزی رژیم، قوتونه، نیمګړتیاوی، فرصتونه، ننګونې او په ملی کچه د اداراتو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ د لا پیاوړتیا په رابطه مفصل معلومات ورکړل. ورپسې د یاد مرکز د د دارالانشاء نورو غړو هم د غونډې له ګډونوالو سره دځانګړو غیرمالی تشبثونو او حرفو سکتور نظارت او د چارو د تنظیم، د تنفیذی ادارو د پیسو وینځلو سره د مبارزی ظرفیت لوړاوی، دوه اړخیزو معلوماتو د تبادلې په برخه کې لازم معلومات شریک کړل او د شپږمې غونډې د پریکړو په اړه یې تفصیلي خبرې وکړې.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمر ښاغلي صدیق الله خالد هم په خپل وار سره د غونډې دګډونوالو بېلابېلو پوښتنو او اندیښنو ته د افغانستان بانک دکړنو او فعالیتونو په اړه هر اړخیز معلومات ورکړل.

په دغه غونډه کې د بهرنیو چارو، کورنیو چارو، مالیې او عدلیې د محترمو وزارتونو، استخباراتو لوی ریاست، سترې محکمې، د فرامینو او احکامو د تطبیق او څارنې د لوی ریاست استازوګډون درلود او د همغږۍ عالي کمیسیون د شپږمې غونډې د ورسپارل شوو دندو د تطبیق څرنګوالي په اړه مفصل معلومات د غونډې له ګډونوالو سره شریک کړل او د افغانستان ملي اقتصاد وضعیت او د پیسو وینځلو او نورو جرمونو سره د مبارزې اهمیت ته په کتو، ټولو ادارو له خپله اړخه د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ.

# راه اندازی ورکشاپ یک روزه آموزشی پیرامون اهداف، وظایف و سیاست های کُلی د افغانستان بانک برای محصلین پوهنتون کابل

۲۹جمادی الاول ۱۴۴۵- د افغانستان بانک در ادامه همکاری های اکادمیک خود، امروز ورکشاپ یکروزه آموزشی پیرامون اهداف، وظایف و سیاست های کُلی د أفغانستان بانک، سیستم های تادیاتی و چگونگی شمولیت مالی را برای محصلین رشته های اقتصاد ، مالی و بانکی و مدیریت عامه پوهنتون کابل، برگزار نمود.

در آغاز این ورکشاپ محترم معراج محمد معراج مشاور ارشد پالیسی د افغانستان بانک پیرامون همکاری های اکادمیک د افغانستان بانک با پوهنتون ها و مجمع های علمی صحبت نموده گفت که نهاد های اکادمیک و پوهنتون ها در تربیت و ارتقای دانش مسلکی نسل جوان و آینده سازان کشور نقش کلیدی دارند. او گفت جوانانی که در پوهنتون ها مسایل اقتصادی، مالی و بانکی را بشکل تیوری می آموزند، نیاز به آموزش های عملی دارند که د افغانستان بانک این ابتکار عمل را بدست گرفته و سهم خویش را در ارتقای ظرفیت های مسلکی کشور ایفا می نماید.

محترم معراج همچنان افزود که د افغانستان بانک طی دو سال اخیر توانسته است با اجرای سیاست های معقول پولی در حفظ ثبات ارزش پول ملی و از طریق آن در تامین و حفظ ثبات قیمت های داخلی، نقش خود را به خوبی ایفا نماید چنانچه اکنون پول ملی یکی از با ثبات ترین پول های جهان است که بازتاب دهنده تطبیق موثر سیاست های پولی د افغانستان بانک می باشد. او در زمینه سیستم های تادیاتی و توسعه خدمات مالی نیز صحبت کرده و نقش محصلین را در ترویج و توسعه آن کلیدی عنوان کرد.

سپس محترم محمد شعیب رشیدی مدیر عمومی سکتور پولی آمریت عمومی سیاست پولی د افغانستان بانک در زمینه تطبیق سیاست پولی در کشور، تأمین و حفظ ثبات قیمت های داخلی، کنترول و مدیریت عرضه پول با در نظر داشت شرایط اقتصادی کشور و نرخ مبادله پرزنتیشن آماده شده را ارائه نمود.

در قسمت دیگر این ورکشاپ محترم اسد الله مشفق آمر عمومی سیستم تادیات ضمن ارائه پرزنتیشن، در مورد اهداف، وظایف و مسئولیت های سیستم تادیات صحبت کرده و پیرامون اهمیت بانکداری الکترونیک، سهولت های تادیاتی با کارت های اعتباری و نقش آن در حکومتداری خوب و عاری از هر نوع فساد معلومات مفصل ارائه نمود.

متعاقباً محترم خالد واحدی معاون و سرپرست آمریت عمومی توسعه خدمات مالی پریزنتیشنی را در زمینه افزایش دسترسی عامه به خدمات مالی به ویژه دسترسی قشر فقیر و دارای عاید پائین جامعه، تأمین حقوق مستهلکین، ارتقای سواد مالی مردم و نقش نهاد های اکادمیک در ترویج فرهنگ استفاده از محصولات بانکی به اشتراک کننده گان ارائه نمود.

جمع بندی این ورکشاپ را محترم صلاح الدین ایوبی معاون امور محصلان پوهنتون کابل نموده و ضمن ابراز امتنان و قدردانی از د افغانستن بانک در راه اندازی چنین برنامه های علمی، بر تداوم این همکاری ها تاکید ورزیده و از محصلین خواست تا محتوای این ورکشاپ را با دوستان و خانواده های خود شریک ساخته و نقش مفید خود را در شمولیت مالی ایفا نمایند.



# په هېواد کې د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا او دودولو په موخه غونډه جوړه شوه

۱۴۴۵ د جمادی الاول ۲۸ـ په هېواد کې د اسلامي بانکوالی د پراختیا او دودولو په موخه د افغانستان بانک په نوښت غونډه جوړه شوه. په دې غونډه کې چې د افغانستان بانک د عالي شورا د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه، د افغانستان بانک د مشرتابه پلاوي ترڅنګ د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مسلکي مرستیال او د افغانستان د اسلامي بانکوالی او علومو اکاډمۍ د معاصرو علومو د څېړنیز مرکز رییس او د اسلامي بانکوالی د چارو یو شمېر کار پوهانو ګډون کړی وو.

په پیل کې د افغانستان بانک د ټولو ریاست سرپرست ښاغلي هدایت الله بدري د اسلامي بانکوالی د اهمیت په تړاو د خبرو ترڅنګ وویل چې اسلامي بانکوالي اوسمهال د نړۍ په ټولو اسلامي او غیر اسلامي هېوادونو کې د ودې په درشل کې ده. دا په دې مانا چې اسلامي بانکوالي یوه بنسټیزه اړتیا ده او د اقتصادونو په وده او غوړېدا کې مهمه ونډه لري.

ښاغلي بدري زیاته کړه چې د افغانستان بانک د تېرو دوو کلونو په اوږدو کې د اسلامي بانکوالی د پراختیا او دودولو په برخه کې اغېزناکې هڅې کړي دي، خو د هغه د لا زیاتې پرمختیا لپاره یې د اکاډمیکو بنسټونو او کلیدي وزارتونو لکه پوهنې، لوړو زده کړو او حج و اوقافو وزارتونو همکارۍ ته اړتیا لرو، څو د عامه ذهنونو په روښانه کولو او ذهنیت جوړولو کې د افغانستان بانک سره د اسلامي بانکوالی د ودې او دودولو لپاره همغږي او همکاري وکړي.

د افغانستان بانک سرپرست د دې ډول پروګرامونو جوړول د اسلامي بانکوالی دودولو لپاره اړین وګڼل او له ګډونوالو یې وغوښتل څو د خپلو ګټورو نظرونو او رغنده مشورو په وړاندې کولو سره د افغانستان بانک مرسته وکړي.

وریسې ښاغلي ډاکټر یوسف سلیم د اسلامي بانکوالی د بهیر، دوه کلنو لاسته راوړنو، د اسلامي بانکوالی اوسني وضعیت او راتلونکي پروګرامونو په تړاو ګډونوالو ته هر اړخیز پریزنټېشن وړاندې کړ او په خپل وار یې د ارشاد، حج او اوقافو له وزارت او علومو اکاډمۍ څخه وغوښتل چې د عامه ذهنونو د روښانولو او په هېواد کې د اسلامي بانکوالی د دودولو په برخه کې له د افغانستان بانک سره مرسته وکړي.

د غونډې په دوام کې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مسلکي مرستیال ښاغلي مولوي زر محمد حقاني د افغانستان بانک سره د همکارۍ د کچې په تړاو خبرې وکړې او په مرکز او ولایتونو کې یې د جوماتونو او مدرسو له لارې د عامه پوهاوي د پروګرامونو ترسره کولو لپاره چمتوالی څرګند کړ او د دې پروګرامونو د لا ښه تنظیمولو لپاره یې وغوښتل څو د افغانستان بانک د علومو اکاډمۍ په همکارۍ سره یو لاربښود جوړ کړي او له دوی سره یې شریک کړي.

د دې غونډې په بله برخه کې، د اسلامي بانکوالی او د علومو اکاډمۍ د معاصرو علومو د څېړنیز مرکز رییس ښاغلي مفتي ابو سعید الراشد د اسلامي بانکوالی په برخه کې د بانکونو د مسلکي کارکوونکو پر ظرفیت لوړونې ټینګار وکړ او په دې تړاو یې ګټورې طرحې وړاندې کړې. هغه د اسلامي بانکوالی د دودولو او پراختیا د بهیر د بریالي کېدو لپاره د ښوونیزو او روزنیزو ادارو ګډو هڅو ته اشاره وکړه او له د افغانستان بانک څخه یې د دې پروګرامونو د جوړولو له کبله مننه وکړله.

د دې غونډې په بله برخه کې د ګډونوالو ترمنځ د آزاد بحث او خبرو اترو زمینه برابره شوه چې یاد بحث خلکو ته د اسانتیا برابرولو، د ځینو تشبثاتو د مالي تمویل لپاره د مناسبو زمینو برابرولو او اسلامي مالي سرچینو ته د خلکو د اسانه لاسرسي په برخو کې د نظر شریکولو او ګټورو مشورو په وړاندې کولو سره پای ته ورسید.

باید یادونه وشي چې دا غونډه به د شریعت په رڼا کې د خلکو له غوښتنو سره سم د معقولو پالیسیو د طرحې په کچه تخنیکي بحثونو ته لاره پرانیزي او تمه کیږي چې په دې برخه کې به د بېلابېلو ادارو په ګډو هڅو سره عملي اقدامات ترسره شي.

# د افغانستان بانک د مرکز او جنوب ختیځ زون څخه راټول شوي بانکنوټونه وسوځول







۱۴۴۵ د جمادی الثاني ۶ – د افغانستان بانک په راکړو ورکړو کې د آسانتیاوو رامنځته کولو په پار د افغانستان بانک د قانون د ۳۹ او ۴۲ مادو او اړوندې کړنلارې سره سم د ۱،۲۱۸،۴۳۶،۰۰۰ (یو میلیارد دوه سوه اتلس میلیونه څلور سوه شپږ دیرش زره) افغانیو په ارزښت د افغانۍ زاړه بانکنوټونه وسوځول. دا بانکنوټونه د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس ښاغلي هدایت الله بدري په مشرۍ د ګمارل شوي پلاوي تر څارنې لاندې له کره شمېرنې او کنټرول څخه وروسته وسوځول شول. په دې بانکنوټونو کې د (۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰) افغانۍ انواعیې شاملې وې چې له مرکز او جنوب ختیځ (ګردیز) زونونو څخه راټول شوي وو.

د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس ښاغلي هدایت الله بدري وویل چې افغانۍ زموږ ملي هویت دی او له هېوادوالو څخه یې وغوښتل چې افغاني بانکنوټونه په غوره توګه وساتي او د ژر خرابېدو څخه یې مخنیوی وکړي. همداراز، هغه زیاته کړه چې د افغانیو د ژر زړیدو لاملونه د بانکي کارتونو نه کارول او د ځینو هېوادوالو لخوا په غوړو او ککړو لاسونو د پیسو شمېرل دي.

باید وویل شي چې په دې پروسه کې د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي ملا محمد آخوند او د افغانستان بانک د بانکي عملیاتو لوی آمر ښاغلي عبدالواحد جبارخیل هم ګډون درلود.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک په راکړو ورکړو کې د آسانتیاوو رامنځته کولو په موخه وخت په وخت د افغانۍ زاړه بانکنوټونه له بازار څخه راټولوي او په بدل کې یې هېوادوالو ته نوي بانکنوټه وېشي او د قوانینو او مقرراتو په رڼا کې مندرس بانکنوټونه سوځوي.



# مالي او بانکي کړکیچونه څنګه مدیریت کولای شو؟

مالي او بانکي کړکېچونه د هیوادونو پر اقتصاد جدي اغیزې کوي. دا کړکیچونه د اقتصادي ودې د کمښت، د بیکارۍ د زیاتوالي، د بانکونو د له منځه تللو او لویو مالي زیانونو لامل کیدای شي. له همدې امله په هیوادونو کې د مالي او بانکي کړکیچونو مخنیوی خورا مهم دی. په دې مقاله کې، موږ هغه حل لارې او ستراتیژۍ څیړو چې هیوادونه یې د مالي او بانکي کړکیچونو د مخنیوي لپاره کارولای شي.

**د بانکي سیستم پیاوړتیا**

د مالي او بانکي کړکیچونو د مخنیوي یوه له مهمو لارو څخه د بانکي سیستم پیاوړتیا ده. په دې کې د بانکونو اصلاح کول او د څارنې پیاوړتیا، د پورونو شرایط وضع کول، د بانکونو د پانګې پیاوړي کول او د مالي انضباط پلي کول شامل دي. همدارنګه د بانکونو د فعالیت په اړه د قوانینو تعدیل، د قوانینو ترتیبول،

ترڅو بانکونه په لوړو معیارونو سره سم د لازمو جوازونو ترلاسه کولو ته اړ شي چې دا د مالي او بانکي کړکیچونو د مخنیوي لپاره مهم اقدامات دي.

**د څارنې او مقرراتي سیستم پیاوړتیا**

دڅارنې او مقرراتي سیستم پیاوړتیا هم د مالي او بانکي کړکېچونو په مخنیوي کې خورا مهم دي چې په هیوادونو کې د څارونکو او مقرراتي ادارو د رول ټاکل او پیاوړي کول یو له دغو اقداماتو څخه دی. دغه بنسټونه باید وکولای شي چې د بانکونو او نورو مالي بنسټونو فعالیت په دوامداره توګه وارزوي او له قوانینو او مقرراتوڅخه د سرغړونې په صورت کې ورته لازمې سزاګانې وضع کړي. برسېره پر دې، د مالي او بانکي راپور ورکولو سیستم وده او د څارنې او مقرراتي ادارو ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیا هم د مالي او بانکي کړکیچونو په مخنیوي کې اغیزمن اقدامات دي.

**د خطرونو تنظیم او کنټرول**

د خطرونو تنظیم او کنټرول هم د مالي او بانکي کړکیچونو په مخنیوي کې خورا مهم رول لوبوي. پدې کې د کریډیټ خطر ، د بازار خطر او عملیاتي خطر اداره کول شامل دي. د مالي او بانکي کړکیچونو د مخنیوي لپاره، هیوادونه باید د خطرونو پیژندلو، اندازه کولو او کنټرول لپاره مناسب سیستمونه په پام کې ونیسي. همدارنګه، د مالي او بانکي سیستمونو تنظیم او کنټرول، په شمول د پانګې زیاتوالی، د پیچلو مالي وسایلو کمول او د مالي موسسو په فعالیت کې د روڼتیا زیاتوالی هم کولای شي د مالي او بانکي کړکیچونو په مخنیوي کې مرسته وکړي.

**د عامه پوهاوي لوړول**

د مالي او بانکي مسئلو په اړه عامه پوهاوی د مالي او بانکي کړکېچونو په مخنیوي کې خورا مهم رول لوبوي. د مالي خطرونو په اړه عامه پوهاوی، د دوی د مدیریت طریقې، د پیرودونکو حقونه او دندې او په مالي او بانکي ډګر کې د نورو خلکو حقونه او د مالي قوانینو او مقرراتو سره د مطابقت اهمیت کولی شي د هیوادونو د مالي سیستم د خوندیتوب او ثبات په زیاتوالي کې مرسته وکړي. له همدې امله، په مالي او بانکدارۍ برخه کې د تعلیمي پروګرامونو او فعالیتونو پیاوړتیا او د دې مسئلو په اړه د عامه پوهاوي کچې لوړول د مالي او بانکي کړکیچونو په مخنیوي کې مهم اقدامات دي.

په نړۍ کې ډېر داسې هېوادونه شته چې د مالي او بانکي کړکیچونو مخه یې نیولې او یایې په سم مدیریت سره کنټرول کړي دي. د مقالې په دې برخه کې غواړو د یو شمېر هغو هېوادونو څخه یادونه وکړو چې دوی توانیدلي دي، د کړکیچونو مخنیوی وکړي او یا یې هم په ښه ډول مدیریت کړي:

سنګاپور: سنګاپور په ۱۹۹۰ لسیزه کې له سخت مالي کړکیچ سره مخامخ شو. د مالي کړکیچ د مخنیوي لپاره یاد هیواد د بانکونو د څارنې، د خطرونو د سمون، د بانکي پانګې د پیاوړتیا او د بې ثباته بانکي فعالیتونو د دوام د مخنیوي په اړه سخت مقررات پلي کړل. همدارنګه، سنګاپورقوي څارنیزسیستم او خپلواک نظارت کوونکي سیستم ته پراختیا ورکړه او د نامناسبو مالي کړنود مخنیوي لپاره یې مالیاتي او حقوقي الزامات وضع کړل.

کاناډا: کاناډا په ۱۹۹۰ لسیزه کې د بانکدارۍ کړکیچ سره مخ شو. د کړکیچ اداره کولو لپاره، کاناډا د بانکونو او مالي موسسو د منظمولو لپاره د "کاناډا ماډل" څخه کار واخیست. پدې طریقه کې د پانګې تنظیم کول، د خطرونو فعاله څارنه، د خطرونو مدیریت او د مالي مؤسسو د څارنې پیاوړتیا شامله وه. د دې ماډل پلي کولو کاناډا سره مرسته وکړه

چې د بانکي کړکیچونو مخه ونیسي او د مالي سیستم ثبات ډاډمن کړي.

استرالیا: استرالیا په ۲۰۰۸ کې د نړیوال مالي کړکیچ سره مخ وه، مګر د مناسب کړکیچ مدیریت سره یې اغیزې کمې کړې. آسټرالیا مالي قوانین تنظیم کړل، د بانکونو او مالي مؤسسو د څارنې سیستم یې پیاوړي کړ، خطرونه یې اداره کړل او د بانکدارۍ د بیارغونې پروسې یې اسانه کړې.

سویډن: سویډن په ۱۹۹۰ لسیزه کې د بانکي کړکیچ سره مخ شو، مګر په اغیزمنو اقداماتو سره یې خپل مالي وضعیت ښه کړ. سویډن د کړکیچ د اداره کولو لپاره بېلابېل میتودونه وکارول لکه د ضعیفو بانکونو تعلیق، د بانکي پانګې پیاوړي کول، د مالي مقرراتو تنظیم کول او د څارونکوادارو لخوا د څارنې زیاتول په کې شامل وو.

آلمان: آلمان په ۲۰۰۸ کال کې له مالي او بانکي کړکیچ سره مخامخ شو. د کړکیچ د اداره کولو لپاره، آلمان د بانکي څارنې پیاوړتیا، د بانکي پانګې پیاوړتیا، د بانکي فشار ازموینې پلي کولو او د بانکي بیارغونې پروسې د اسانتیارامنځته کولو څخه ګټه پورته کړه. دې اقداماتو د آلمان سره د کړکیچ په اداره کولو او د مالي سیستم ثبات ساتلو کې مرسته وکړه.

هر هیواد ممکن خپلې ځانګړې لارې او حل لارې ولري، مګر فکتورونه لکه د مقرراتي سیستم پیاوړتیا، د مالي قوانینو تنظیمول، د بانکي پانګې پیاوړتیا او د خطر مدیریت معمولاً د مالي او بانکي بحران مدیریت پروګرامونو کې کارول کیږي.

**پایله:**

مالي او بانکي کړکیچونه کولای شي د هیوادونو اقتصاد لپاره جدي پایلې ولري. د دې کړکیچونو د مخنیوي لپاره، د بانکدارۍسیستم پیاوړی کول، د څارنې او مقرراتو سیستم پیاوړی کول، د خطرونو تنظیم او کنټرول، او د عامه پوهاوي پیاوړتیا خورا مهم دي. دغه تدبیرونه د مالي، بانکي او دولتي بنسټونو تر منځ د همکارۍ سره یو ځای کولای شي په هېوادونو کې د مالي او بانکي کړکیچونو د مخنیوي او د هېوادونو د ثبات او اقتصادي پرمختګ لپاره ګټور وي.

حسیب الله نوري
د افغانستان بانک ویاند

سرچینې:

1. Managing Systemic Banking Crises: New Lessons and Lessons Relearned
2. Author/Editor:Marina Moretti; Marc C Dobler; Alvaro Piris
3. ChavarriPublication Date:February 11, 2020Electronic
4. https://www.imf.org/en/Publications/Departmental-Papers-Policy-Papers/Issues/2020/02/10/Managing-Systemic-Financial-Crises-New-Lessons-and-Lessons-Relearned-48626
5. PreventingFinancial Crises inDeveloping Countries
6. https://documents1.worldbank.org/curated/en/600471468127172589/310436360_20050012034200/additional/Global-economic-prospects-and-the-developing-countries-1998-1999-beyond-financial-crisis.pdf
7. The main determinants of banking crises in OECD countries
8. https://home.iscte-iul.pt/~jjsro/papers/BankingCrises.pdf
9. بحران مالی در جهان: دالیل و نتایج وقوع آن
10. http://ensani.ir/file/download/article/20120504170944-9021-4.pdf




# گنجینه های پنهان

## امیدی برای اقتصاد شکوفای افغانستان

نویسنده زیرک ملیا

معادن گنجینه های پنهان اند که از جانب خداوند متعال برای آسایش بشریت به میان آمده است تا انسان ها برای رفاه و آسایش خود با بهره گیری ازعلم به آن دست یافته و از آن استفاده اعظمی نمایند. نظر به تحقیقاتی که انجام یافته، خوشبختانه افغانستان یک کشور با معادن فراوان می باشد.

در جهان امروزی اکثریت کشورهای جهان از منابع زیر زمین خود استفاده اعظمی نموده و در بسیاری از کشور ها این منابع رو به اتمام می باشند و حتی به کمبود آن مواجه و برای استفاده، آن را از کشور های دیگر خریداری می نمایند. افغانستان از جمله کشور های جهان است که منابع طبیعی دست نخورده دارد و بسیار کم مورد استفاده قرار گرفته است. در این سرزمین به ارزش تریلیون ها دالر معادن به گونه های مختلف وجود دارد که در این مقاله به چند نوع محدود آن اشاره صورت میگیرد.

**لیتیوم و سایر عناصر**

گزارش های روزنامه واشنگتن پوست نشان میدهد که معادن تازه کشف شده لیتیوم، آهن، مس، کوبالت، و طلا در جنوب افغانستان به حدی است که می تواند این کشور فقیر را به یک کشور غنی جهان مبدل سازد. صاحب نظران و کار شناسان امور بدین باور اند که تنها اندازه لیتیوم افغانستان برابر با نفت عربستان سعودی می باشد. لیتیوم یکی از عناصر طبیعی بوده که بزرگ ترین کمپنی های جهان چون اپل، سامسنگ، اداره فضانوردی ناسا و سایر شرکت های صنعتی بزرگ دنیا نیازمند استفاده آن در محصولات خویش اند.

**مِس و گاز**

افغانستان دارای معدن های فراوان مس بوده که مشهور ترین منبع آن معدن مس عینک در ولایت لوگر است که دارای سه قسمت مرکزی، غربی و جنوبی می

باشد. مجموعاً سنگ های مس دار به ۲۴۰ میلیون تُن می رسد. مس افغانستان با بزرگ ترین و ارزش مند ترین معدن مس جهان که در کشور شیلی قرار دارد، برابر است. علاوه بر این، گاز افغانستان به صورت سرشار در سینه این سرزمین نهفته است که ارزش آن به بیشتر از یک تریلیون دالر یعنی نصف ارزش مجموعی گاز عراق مقایسه می شود.

**سنگهای گرانبها**

**الماس:** ناشفاف به رنگ های سبز، زرد و سرخی دار در نقاط مختلف کشور وجود دارد که از الماس کشورهای آفریقایی به مراتب بهتر، با کیفت و با ارزش تر گفته شده است.

**زمرد:** این سنگ قیمتی و با ارزش در ولایات پنجشیر، بدخشان، نورستان و کاپیسا وجود دارد که از نظر کیفیت و ارزش از زمرد کشور کولمبیا با ارزش تر و با کیفیت تر می باشد.

**لاجورد:** لاجورد افغانستان از کیفیت و جایگاه خاصی در جهان برخوردار بوده و از قدیم ایام استخراج آن جریان دارد که در اکثریت کشور های جهان علاقه مند دارد و یکی از محبوب ترین سنگ های قیمتی افغانستان پنداشته می شود.

افغانستان از لحاظ اقتصادی از جمله کشورهای فقیر دنیا محسوب می شود اما از لحاظ معادن یک کشور بسیار غنی می باشد. تحقیقات انجام شده نشان می دهد که در صورت استفاده از معادن افغانستان، ارزش سالانه آن حد اقل به ۵۰ میلیارد دالر می رسد. می توان گفت در زیر پای مردم فقیر افغانستان میلیاردها هزار افغانی نهفته است که میتوانیم با استفاده از آن به یکی از کشور های مهم و ثروت مند جهان مبدل شویم. خوشبختانه، با بهتر شدن وضعیت امنیتی کشور، در سال روان به ارزش هفت میلیارد دالر قرارداد های استخراج ۵۳ معدن از جانب وزارت معادن و پترولیم امارت اسلامی افغانستان به امضا رسید که این خود نشان دهنده سیاست اقتصاد محور دولت است.

به گفته مسولان وزارت یاد شده این تفاهم نامه ها در بخش استخراج آهن، سرب، جست، و سنگ های گران بها صورت گرفته است که در مجموع ۹ معدن از مقیاس بزرگ و ۴۴ معدن از مقیاس کوچک به قرار داد سپرده شده اند که علاوه بر درآمدزایی، فرصت های اشتغالزایی را به بار آورده باعث تغییرات مثبت در زندگی مردم خواهد شد. ازینکه معادن غیر قابل تجدید بوده و نیاز است تا در قسمت استخراج آن توجه جدی، مسلکی و حرفی ای صورت گیرد زیرا معادن سرمایه های ملی بوده و عواید به دست آمده آن باید در پروژه های زیر بنایی و فابریکات تولیدی سرمایه گذاری گردد تا منبع خوب برای رشد اقتصادی کشور واقع گردد.



# اقتصادي خبرونه

**د هېواد د تازه میوو په حاصلاتو کې ۳۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی**



د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په روان لمریز کال کې د تازه میوو د حاصلاتو د زیاتېدو خبر ورکوي. د دغه وزارت ویاند وایي، چې سږ کال د تازه میوو حاصلات ۳۰ سلنه زیات شوي او دغه وزارت هڅه کوي، چې کروندګرو ته نورې اسانتیاوې برابرې کړي. په ورته وخت کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت هم ټینګار کوي، چې په تېرو ۸ میاشتو کې د ۱۴۸ میلیونه ډالرو په ارزښت تازه میوه پاکستان، هند، آلمان، تاجکستان او ترکیې ته صادره شوې ده. بلخوا یو شمېر سوداګر وایي، د صادراتو په موسم کې د هېواد د بندرونو تړل کېدل، یوه لویه ننګونه ده او له سرپرست حکومت غواړي، چې په دې برخه کې اسانتیاوې برابرې کړي.

**سه کشور خواستار سهمگیری فعال افغانستان در کار پروژه‌ی «کاسا ۱۰۰۰» شدند**

وزیران انرژی تاجیکستان، قرغیزستان و پاکستان، شنبه ی هفته‌ی روان در حاشیه ی نشست «کاپ ۲۸»، از افغانستان خواستند که در کار پروژه‌ی انتقال برق «کاسا ۱۰۰۰» سهم فعال بگیرد. آنان، با پخش اعلامیه ای گفته اند: «ما خواستار تسهیل و ازسرگیری کار ساخت پروژه‌ی کاسا ۱۰۰۰ در خاک افغانستان هستیم؛ زیرا بدون مشارکت افغانستان، این پروژه ارزش خود را از دست می‌دهد.» پروژه ی «کاسا ۱۰۰۰» طرحی است که بر اساس آن ۱۳۰۰ مگاوات برق تاجیکستان و قرغیزستان به افغانستان و پس از آن به پاکستان می رسد که ۵۶۲ کیلومتر آن از خاک افغانستان می گذرد. در همین حال، مسئولان در وزارت آب و انرژی، می گویند که ۵۰ درصد کار پروژه‌ی انتقال برق «کاسا ۱۰۰۰» در افغانستان پیش رفته است و تلاش ها برای ازسرگیری کار این پروژه جریان دارد. مطیع الله عابد، سخنگوی این وزارت، می‌گوید که برای اجرایی‌شدن این پروژه، طرحی به کابینه فرستاده شده است. وی



می‌افزاید: «در افغانستان ۵۰ درصد کار این پروژه پیش رفته است. در باره‌ی آغاز کار پروژه‌ی کاسا ۱۰۰۰ با بانک جهانی نشست‌هایی صورت گرفته است که این پروژه دوباره کارش آغاز شود و نیز وزارت آب و انرژی طرحی را به کابینه پیشنهاد کرده است که با سکتور خصوصی کار این پروژه را آغاز کند و با عملی شدن این پروژه ۴۵ میلیون دالر مفاد به افغانستان می‌رسد.» همین گونه، امان‌الله غالب، رئیس پیشین شرکت برق‌رسانی افغانستان (برشنا)، می گوید که به علت به رسمیت شناخته نشدن حکومت سرپرست، کار عملی این پروژه آغاز نشده است. او می‌افزاید: «پروژه ی کاسا ۱۰۰۰ یکی از پروژه های اساسی و مهم است و از لحاظ اقتصادی و از لحاظ سیاسی مهم است. از بعد اقتصادی، افغانستان منحیث مسیر ترانزیت استفاده شود و پاکستان ۱۰۰۰ مگاوات برق از مسیر افغانستان دریافت کند و ۳۰۰ مگاوات دیگر شرکت برشنا می‌تواند بگیرد و سوم هم افغانستان بر اساس فیس که اخذ می‌شود، می تواند فایده از آن ببرد و علاوه از آن، سالانه تا سه میلیون دالر به مناطقی کمک می‌شود که لاین برق از آن می گذرد و نیز از لحاظ سیاسی آسیای میانه با آسیای جنوبی وصل می‌شود«.

گفتنی است که طرح پروژه‌ی انتقال برق «کاسا ۱۰۰۰» در ۲۰۰۵ در کنفرانس هم کاری های اقتصادی منطقه‌ای (ریکا) مطرح شده بود که باید تا سال ۲۰۲۰ به بهره‌برداری می‌رسید؛ اما کار این پروژه تا کنون تکمیل نشده است.

منابع:

۱- طلوع نیوز / ۲- سپوږمی راډیو / ۳- روزنامه ملی انیس



# د افغانستان بانک د شپږ میاشتنیو

## کړنو او لاسته راوړنو راپور

**سريزه**

د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه تل هڅه کړې ده چې په ټولو مالي او بانکي برخو کې د درنو هېوادوالو لپاره غوره آسانتیاوې برابرې کړي. دا بانک په تېرو دوو کلونو کې توانېدلی دی چې په بېلابېلو برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې ولري.

په هېواد کې د جمهوري نظام تر ړنګېدو او د افغانستان اسلامي امارت تر بیا ځلي واکمنېدو وروسته هغه مهال چې د افغانستان بانک چارې د دې بانک مشرتابه ته وسپارل شوې، د یو شمېر هېوادونو، مالي او بانکي مؤسسو او اقتصادي کارپوهانو وړاندوینې دا وې چې د افغانستان بانکي سکتور به له کړکیچ سره مخ شي. خو د افغانستان بانک د مشرتابه په مدبرانه مدیریت سره نه یواځې دا چې چارې په ښه توګه مدیریت شوې، بلکې په دې برخه کې د پام وړ پرمختګونه وشول.

دا بانک د معقولو پولي سیاستونو په پلي کولو سره وتوانید چې د افغانۍ د ارزښت د ساتلو او په مطلوب حد کې د انفلاسیون نرخ د کنټرول په برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې ولري. دا مهال افغانۍ په نړیواله کچه د غوره ثبات لرونکو پولي واحدونو په قطار کې ده او د اسعارو پر وړاندې یې ارزښت لوړ شوی دی.

په یاده موده کې د افغانستان بانک مشرتابه وتوانېد چې پر بانکي سکتور د نړیوالو محدودیتونو د راکمولو په برخه کې هم اغېزناکه ګامونه پورته کړي او د امریکا د خزانې له وزارت څخه د پیسو د نړیوالو لېږدونو ۱۴،۱۵،۱۶،۱۷،۱۸،۱۹ او ۲۰ شمېرو جوازونه تر لاسه کړي.

په سوداګریزو بانکونو کې د پېرودونکو پر امانتونو په تدریجي ډول د محدودیتونو کچه راټیټه شوې ده او په نویو حسابونو باندې محدودیتونه نشته.

د نویو بانکنوټونو چاپ، خېرول او زړو (مندرسو) بانکنوټونو راټولول هم د دې بانک د سترو لاسته راوړنو څخه دي، د نړیوالې ټولنې له محدودیتونو سره سره دا بانک توانېدلی چې نوي بانکنوټونه چاپ او یوه زیاته برخه یې هېواد ته راوړي چې بازار ته وړاندې شوي او په بدل کې یې زاړه بانکنوټونه راټول شوي دي.

دې بانک د معلوماتي تکنالوژۍ، بشري سرچینو او داسې نورو ډېرو سکتورونو د سیستمونو د پراختیا په برخه کې چې په دې راپور کې ورته اشاره شوې، د پام وړ پرمختګونه درلودلي دي.

د دې راپور د جوړولو موخه روښتیا، حساب ورکول، معلوماتو ته د خلکو لاسرسی او د افغانستان بانک د لاسته راوړنو شریکول دي چې په ډاګه کړي څه ډول د افغانستان بانک وتوانید چې په یو ماتېدونکي او کمزوري وضعیت کې د هېواد بانکي سکتور مدیریت کړي او مثبت لوري ته یې برابر کړي.

په دې راپور کې د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ پرمختګ، د انفلاسیون کنټرول او نور اقتصادي متغیرونه رانغښتي دي او هڅه شوې ده چې شمېرې او ارقام په پرتلیزه توګه د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ کلونو د لومړیو شپږو میاشتو په اوږدو کې وړاندې او له درنو هېوادوالو او د افغانستان بانک له ذینفع شریکانو سره شریک شي.

**<u>د معقولو پولي سیاستونو پلي کول او د افغانۍ ارزښت ساتنه</u>**

د افغانستان بانک د هېواد د پولي سیاستونو د طرحې، پلي کولو او اجراء کولو د یوازینۍ مرجع په توګه د تیرو دوو کلونو په اوږدو کې د معقولو پولي سیاستونو په پلي کولو سره توانېدلی دی چې د افغانۍ د ارزښت ساتنې په برخه کې د پام وړ ګامونه پورته کړي.

کله چې د افغانستان بانک چارې د دې بانک مشرتابه ته وسپارل شوې، د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت په تر ټولو ټیټه کچه کې وو، خو د وخت په تېرېدو او د معقولو پولي سیاستونو په پلي کېدو سره د افغانستان بانک وتوانید چې په تدریجي ډول د افغانۍ ارزښت لوړ کړي او له دې لارې خپله لومړنۍ موخه چې د کورنیو بیو ټیکاو دی،ترلاسه کړي.

معلومات ښیي چې د روان زیږدیز کال په تېرو درېیو میاشتو کې

د افغاني ارزښت ۹ سلنه لوړ شوی دی او په نړیواله درجه بندۍ کې یې د غوره ثبات لرونکي پولي واحد ځای خپل کړی دی. همدارنګه په روان کال کې یې ارزښت ۱۴سلنه لوړ شوی چې تر سریلانکا او کولمبیا وروسته یې په نړیواله کچه دریم مقام تر لاسه کړی دی.

د معلوماتو پر بنسټ، د ۱۴۰۰ لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د امریکایي ډالر پر وړاندې د افغانۍ منځنۍ نرخ ۱۰۱.۲۵ ؤ، خو د ۱۴۰۱ لمریز کال په ورته دوره کې د افغانۍ ارزښت ۸۷.۸۹ افغانۍ ته لوړ شوی دی. حال دا چې د ۱۴۰۲ لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې دا شمېره ۷۸.۱۵ ته رسېږي چې د هېواد د معقولو پولي سیاستونو د اغېزناکه پلي کېدو له امله د افغانۍ ارزښت زیات شوی دی.

د ۱۴۰۰ لمریز کال په پرتله په ۱۴۰۱ کال کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ۱۳.۳۶افغانۍ او د ۱۴۰۱ کال په پرتله په ۱۴۰۲ کال کې ۹.۷۴ افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې دا پرمختګونه د نړیوالو بنسټونو، مالي او بانکي مؤسسو او اقتصاد پوهانو د پام وړ ګرځېدلي دي

**لاندې ګراف په ترتیب سره د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ لمریز کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغانۍ ارزښت ښکاره کوي:**

د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ لمریز کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغانۍ ارزښت د امریکایي ډالر په مقابل کې




## انفلاسیون کنترول او په مطلوب حد کې د هغه ساتل

د افغانستان بانک د افغانۍ د ارزښت په ساتلو سره توانېدلی دی چې د انفلاسیون نرخ په مطلوب حد کې وساتي. د معلوماتو پر بنسټ د ۱۴۰۰ لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د انفلاسیون نرخ ۲.۹۸ وو، بیا د ۱۴۰۱ لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د سیاسي نظام د بدلون په پام کې نیولو سره یو دوه رقمي انفلاسیون رامنځته شوی او ۱۵.۳۲ سلنې ته لوړ شوی، خو د افغانستان بانک په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د معقولو پولي سیاستونو په پلي کولو سره وتوانېد چې د انفلاسیون نرخ په تدریجي ډول له دوه رقمي حالت څخه منفي ۴.۸۶ ته راکم کړي.

د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ لمریز کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د انفلاسیون پرتله




## بانکي سکتور

د سیاسي بدلون او د تېر حکومت له ړنګېدو وروسته، د بانکي سکتور چارې په یو کړکیچن حالت کې د افغانستان بانک نوي رهبرۍ ته وسپارل شوې. که چېرې د نړۍ هر هېواد له دې ډول وضعیت سره مخ شوی وای د بانکي سکتور مدیریت به د دوی لپاره ستونزمن کار وای. هغه مهال یو شمېر هېوادونو، مالي او بانکي مؤسسو او د اقتصادي چارو کارپوهانو وړاندوینه کوله چې ډېر ژر به د افغانستان بانکي سکتور سقوط وکړي. خو د الله ج په مرسته او د افغانستان بانک د رهبرۍ په غوره مدیریت سره چارې په ښه ډول پر مخ وړل شوې، نه یوازې دا چې کوم بانک سقوط کړی نه دی، بلکې دې سکتور وده وکړه او په دې اړه

ټولې وړاندوينې يې ناسمې ثابتې کړې.

د افغانستان بانک مشرتابه د بانکي سکټور د ټيکاو او ټينګښت لپاره له خپلو کورنيو او بهرنيو شريکانو سره يو شمېر تخنيکي غونډې ترتيب کړې،د محدوديتونو د لرې کولو او اړينو آسانتياوو د رامنځته کولو په برخه کې اغېزناکه خبرې اترې ترسره شوې او سوداګريزو بانکونو ته يې ګڼ شمېر متحدالمالونه صادر کړي او په دوامداره ډول يې د دوی کړنې څارلې دي.

## د مشتريانو پر امانتونو د محدوديتونو کمښت

څرنګه چې درانه هېوادوال خبر دي په هېواد کې د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته د هغو محدوديتونو او بنديزونو له کبله چې په افغانستان باندې وضع شول بانکي سکټور هم تر فشار لاندې راغی او دا چاره د دې لامل شوه چې د پېرودونکو پر امانتونو باندې يو لړ محدوديتونه رامنځته شي.

د افغانستان بانک مشرتابه د يادو محدوديتونو د لرې کولو لپاره بې دريغه هلې ځلې ترسره کړې چې د يو شمېر ګټورو مشورو او خبرو اترو وروسته دا چاره د وضعيت د ښه والي لامل شوه.

د معلوماتو پر بنسټ په سوداګريزو بانکونو کې د محدوديتونو دا کچه په لومړيو کې د امريکايي ډالرو حساب لرونکو لپاره په اونۍ کې ۲۰۰ امريکايي ډالر او د افغانۍ حساب لرونکو لپاره په اونۍ کې ۲۰۰۰۰ افغانۍ وه چې د نسبي امکاناتو په برابرېدو سره د محدوديتونو کچه راکمه شوه او د ډالري حساب لرونکو پېرودونکو لپاره په اونۍ کې د برداشت دا کچه ۴۰۰ امريکايي ډالر او ۳۰۰۰۰ افغانۍ ته لوړه شوه. د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي په دې برخه کې خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړ او د پېرودونکو د امانتونو د اخيستنې (برداشت) کچه يې ۶۰۰ امريکايي ډالرو او ۵۰۰۰۰ افغانيو ته ورسوله او که چېرې د پېرودونکو اخيستنې په مياشتنې ډول ترسره شي کچه يې ۲۰۰۰ امريکايي ډالرو او ۲۰۰،۰۰۰ افغانۍ ټاکل شوې وه، حال دا چې دا شمېره مخکې په ترتيب سره ۱۲۰۰ امريکايي ډالر او ۱۰۰،۰۰۰ افغانۍ وه.

د يادونې وړ ده چې دا د کار پای ته رسيدلی نه دی، د افغانستان بانک به خپلې هڅې کوي، څو د هېواد د بانکونو وضعيت عادي حالت ته راولي او بانکي سکټور د سيمې په کچه په يو بريالي او نړيوالو معيارونو برابر سکټور بدل کړي.

په دې برخه کې بايد د خپلو هغو درنو هېوادوالو له زغم او همکارۍ څخه مننه وکړو چې په ياده دوره کې زموږ ترڅنګ ودرېدلي او پرېنښود چې بانکي سکټور له خطر سره مخ شي.

د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ لمريز کلونو کې د مشتريانو پر امانتونو د محدوديت کمښت




## بانکي تضمينونه

په سوداګريزو بانکونو کې د درنو هېوادوالو د بانکي تضمينونو په اړه هم يو شمېر پرمختګونه رامنځته شوي دي. اوس مهال هغه درانه هېوادوال چې په بانکونو کې تر درې سوه زره (۳۰۰۰۰۰) او يا هم په اسعارو د هغه معادل تضمينونه ولري کولای شي چې د سندونو په وړاندې کولو سره له بانکونو څخه خپل تضمينونه تر لاسه کړي.

| ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ |
|---|---|---|
| ۰ | ۰ | ۳۰۰،۰۰۰ |

**د نغدو پیسو مدیریت**

**چاپ، خپرول او د زړو بانکنوټونو راټولول**

د افغانستان بانک د نغدینګۍ د مدیریت په برخه کې د پام وړ ګامونه پورته کړي دي. کله چې د افغانستان بانک چارې نوې رهبرۍ ته وسپارل شوې، سوداګریزو بانکونو د نغدینګۍ په برخه کې ډېرې ستونزې درلودې، خو د الله ج په مرسته، د افغانستان بانک د رهبرۍ او کارکوونکو په هلو ځلو یادې ستونزې حل شوې او اوس مهال د نغدینګۍ په برخه کې هېڅ ډول ستونزه نشته او د هېواد په ټولو برخو کې نغدینګۍ تأمین شوې ده.

په همدې ترتیب د ۱۴۰۱ لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغانستان بانک د نمایندګیو د نغدینګۍ د ساتنې، د دولت د لګښتونو د تأمینولو، د سوداګریزو بانکونو د نغدینګۍ د ساتنې او د ولسي تړون د پروژو د لګښتونو د ورکړې لپاره څه باندې ۳ میلیارده افغانۍ له مرکز څخه ولایتونو ته لیږدول شوي دي او له ولایتونو څخه مرکز ته شاوخوا ۱۸ میلیارده افغانۍ اضافي پیسې چې په نمایندګیو کې وې، راوړل شوې دي.

په ۱۴۰۲ لمریز کال کې له مرکز څخه څه باندې ۱۰ میلیارده د نمایندګیو د نغدینګۍ د ساتنې، د دولت د پولي لګښتونو د پوره کولو، د سوداګریزو بانکونو د نغدینګۍ ساتنې او د ولسي تړون د پروژو د لګښتونو د ورکړې لپاره لېږدول شوې دي او له نمایندګیو څخه څه باندې ۱۲ میلیارده افغانۍ مرکز ته راوړل شوې دي.

.

د نویو بانکنوټونو چاپول

د افغانستان اسلامي امارت تر فتحې وروسته، نړیوالې ټولنې په ډېرى برخو کې بندیزونه وضع کړل، خو له محدودیتونو سره سره د افغانستان بانک د نړۍ له هېوادونو او نړیوالو سازمانونو سره له تخنیکي بحثونو او خبرو اترو وروسته وتوانېد چې نوي بانکنوټونه چاپ کړي. که څه هم آسانه کار نه وه، خو د الله ج په مرسته او د دې بانک د رهبرۍ په بې درېغه هلو ځلو سره، د افغانستان بانک د پیسو په چاپولو بریالی شو چې دا کار د افغانستان بانک لپاره یوه ستره لاسته راوړنه ده.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک لخوا بازار ته نوي بانکنوټونه د معقولو پولي سیاستونو او په دې برخه کې د شته کړنلارې پر بنسټ د بازار د اړتیاوو په پام کې نیولو سره وړاندې کېږي او په بدل کې یې زاړه بانکنوټونه له ګردښت څخه بهر او سوځول کېږي.



# په اسلامي بانکوالۍ کې د تمويلاتو د خطراتو مديريت

اسلامي بانکوالي، چې د اسلامي شريعت له اصولو او لارښوونو سره سم فعاليت کوي، د اسلامي اقتصادي نظام يوه مهمه برخه تشکيلوي. دا بانکوالي د دوديزې بانکوالۍ څخه توپير لري او د سود (ربا) کارول پکې ممنوع دي او په هغو فعاليتونو کې ښکيلتيا او پانګونه پکې ممنوع ده چې ناڅرګندتيا او غرر پکې شامل وي. اسلامي بانکوالي د ټولنيز مسؤليت رامنځته کوونکو مالي کړنو ته وده ورکولو باندې تمرکز کوي. د اسلامي بانکوالۍ اصلي مفهوم د ګټې او تاوان شريکول دي، چې بانک او مشتري دواړه پکې د پانګونې په خطرونو او زيان او ګټه کې شريک وي. دا اصول د شتمنيو مساوي ويش هڅوي او د بانک او مشتريانو ترمنځ د شراکت پر بنسټ چلند ته وده ورکوي. د اسلامي بانکوالۍ ابزارونه د اقتصادي فعاليتونو د آسانتياو لپاره جوړ شوي دي او د عدالت، روڼتيا، او ټولنيزې هوساينې اصولو په رڼا کې ترسره کيږي. اسلامي بانکوالي په نړيواله کچه د پام وړ شهرت ترلاسه کړی، او ډيری مالي ادارې د اشخاصو او سوداګريزو اړتياوو د پوره کولو لپاره د شريعت سره مطابقت لرونکي محصولات او خدمات وړاندې کوي. د دوديزو بانکونو په څير، اسلامي بانکوالي هم په نړۍ کې د پرمختګ په لور ګامونه پورته کړل او د وخت په تيريدو يې د اسلامي هېوادونو سربېره په غير اسلامي هېوادونو کې هم فعاليتونه زيات شول. د اسلامي بانکوالۍ خدمتونو او محصولاتو په

دودیدلو سره اسلامي بانکونو ته خطرونه هم متوجه شول او د دودیزې بانکوالۍ په څېر په دې بانکوالۍ کې هم د خطرونو مدیریت ته اړتیا ولیدل شوه. په هغو خطرونو کې چې د بانکوالۍ سکتور ورسره مخ کېدای شي د تمویلاتو خطر، د بازار خطر، عملیاتي خطر، د نغدینګۍ خطر او د مقرراتو په برخه کې خطرات شامل دي. په دې مقاله کې په اسلامي بانکوالۍ کې د تمویلاتو یا د پورونو خطرات تر بحث لاندې نیول کیږي.

اسلامي بانکوالي بېلابېل محصولات وړاندې کوي چې تر ډېره د سود څخه پرته پورونو او د تمویلاتو پر بنسټ ترسره کیږي چې بېلګې یې مرابحه، مشارکه، مضاربه او داسې نور دي. همدارنګه، اسلامي بانکونه قرضه الحسنه او کوچني پورونو ورکولو ته هم ډیر اهمیت ورکوي. د دې پورونو موخه د محرومو اشخاصو او ټولنو لاسنیوی کول او هغوی په مالي ډول پیاوړي کول دي. کوچني پورونه د اسلامي اصولو په رڼا کې فعالیت کوي، د سود څخه پاک وي او د متشبثاتو مالي ملاتړ کوي ترڅو اقتصادي بسیاینې ته لاره هواره کړي او د بیوزلۍ په کمولو کې ارزښتمن رول ولوبوي.

**د تمویلاتو خطر کله پیښیږي؟**

